بسم الله الرحمن الرحيم

## حزب التحرير- اندونيزيا

## د اویغور مسلمانانو د ستونزو د حل لار د خلافت قومانده ده



په اندونیزیا کې د حزب التحریر غړی استاد روخمت سید لبیب وویل چې د اویغور د حل لار د واحد حاکمیت درلودل دي. (د اویغور د مسلمانانو د ټولو ستونزو لپاره د حل لار دا ده چې یوځای سره حرکت وکړو. باید د خلافت تر قیادت لاندې یوه قومانده وي.) هغه په یوه مطبوعاتي وینا کې خلکو ته وویل: (د ایغور مسلمانان د مرستې لپاره چیغې وهي، د مسلمانانو حاکمان چېرې دي؟) چهارشنبه (۲۰۱۸/۲۶/۱۲) جیدونګ جوانک ۴۵ مېنټېنګ، مرکزي جاکارتا.

مخکې د چین د سفارت مخې ته، روخمت سید لبیب ویلي و، چې مسلمانان سره یو دي، که مسلمانان په کوم ځای کې وځورول شي نور مسلمانان باید په غوصه شي او غبرګون وښیي:

(مسلمانان ټول په یوه عقیده راټول دي او که خپل ورور ویني چې په اویغور کې ځورول کیږي او عذاب ورکول کیږي باید په قهر شي) د چین د سفارت په وړاندې د اویغور په هکله عکس العمل ، جمعه (۲۱/۱۲) جاکارتا.

د روخمت په وینا، که مسلمان له موږ څخه د مرستې غوښتنه وکړي د اسلام له مخې موږ باید ورسره مرسته وکړو ځکه چې هغوی د مسلمانانو یوه برخه ده.

(خلک باید په دې پوه شي چې مسلمانان یو امت دی او مسلمانان به پیاوړي وي که موږ یو خلافت ولرو) دا د هغه د وینا پایله وه.

**په اندونیزیا کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**